# غزلونه



Ketabton.com

## شاعر: ازل جی

مینه نه کېږي پښتو کېږي ازله

ګلابونه کتابونو کې زاړه شي

لیکوونکی: محمد یونس زیرک

کال: ............................................ ۱۴۰۳

ketabton.com - The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

* * *

ډیر وریږمه زیادت رانه ونشی

د یو ښکلي عبادت رانه ونشی

په ښایست خبره کیږی رنګ می زیړ دی

تلویزون کی دی صفت رانه ونشی

ډوډی نه خورمه چای نه څکم مننه

خو په شونډو کی به څت رانه ونشی

له ما خپله بل چا وړي دی خراب یم

ستا د زړه به حفاظت رانه ونشی

د بی ننګو به صفت رانه وانوری

د نرانو به غیبت رانه ونشی

هغی دومره پښیمانه کړم ازله

دوباره به محبت رانه ونشی

ketabton.com - The Digital Library

* * *

غم دی ښه ډیر گران شی ښوښی دی په یوه روپئ شی

امن دی راشی او بیخی دی په یوه روپئ شی

چی هر سړی دغه میوه وخوری او ښه یی وخوری

د جینکیو اننگی دی په یوه روپئ شی

د پښتنو د سر ټکرې دی بی ارزښته نشی

د دوکاندار ماما ټکرې دی په یوه روپئ شی

غلې ښه یم غږوه می مه لالیه

زه څه نه وایم خبره خرابیږی

ته چی رانشی والاکه محفل وکم

ته چی کیننې سندره خرابیږی

سرکشیانی به خود کوی سرکاره

ادم زاد چی شی نهره خرابیږی

جانان څه ملامته دی تندیه

دغه هر څه خو له بره خرابیږي

ساقی ډک که د انصاف منصاف نه تیر شه

گینی بیا گوره ککره خرابیږی

ستا ازل د ورځی سم صحی سړی وی

خو په ماښام کی ښه په نره خرابیږی

ketabton.com - The Digital Library

* * *

هغه سترګو ته مې نظر که خیرات که
خدایه ما مې د لالې په ځای وفات که
بختوري ما د عمر بختور که
په کلیزه کې دې زړه راته سوغات که
زه د زړه د ماتیدو د زوره نه یم
زړه مې مه ماتوه راشه سر مې مات که
ډسمبر دی شینی یخني یمه نیولی
لږ شان اور دې په غمبورو په سي زیاد که
سپینه خوله وربانده‌ی کیده مسلمانې
د ازل د خولې اوبه آب حیات که
دعاګانو کې مې یاد ساته ډاکټرې
شاعری مې مرګ نه پس را پسی اسخات که

ketabton.com - The Digital Library

* * *

نه مې زړه ښه دی نه به ښه شي یاره
څوک دې زما په رکم نه شي یاره
دا په جنت مئین در ټول که خدایه
د ددغو حق دی چې ووده شي یاره
د خیټې غم ته چې وطن خرڅوي
په تورو خاورو دې ماړه شي یاره
چې جانان و وایي خو شکر ښه یم
د سړي زړه ورسره ښه شي یاره
ازله بیا دې شاید زړه صبر شي
دا ستا ډاکټره دې واده شي یاره

ketabton.com - The Digital Library

*** 

سرې شګې مې باد په سرتور سر د بیابان کړی
ستا د بې ننګې کیسې مې خپل ځان ته بیان کړی
ګل مې درته ونیولو ځومره مې قیمته کړی
لاس مې درنه واخستلو بیرته مې ارزانه کړی
زه یاغی باغی سړی یم بد دی شم بدنام دی شم
ګټه به مې کړی وی که خدای په ما تاوان کړی
درمې که قلم لاس کې ټوپک مې درنه واخسته
ورور مې کړی سړی مې کړی بیرته مې انسان کړی
ځان دې ملا کړی د ډاکټری خوا ته نه ورتلې
شونډې چې درکړی په توبو یې پښیمانه کړی

ketabton.com - The Digital Library

* * *

په چغو وژاړه ناری وکه ګیلی وکه
باران ته ودریږه باران ته دی کیسی وکه
د یارانی په نوم یوه اشرفی مه ورکوه
د خدای په نوم باندی ښی ډیري صدقی وکه
د قهویی سترګو میرمنی ته خبره واوره
واوره وریږی موسم ووه دی یو څو شپی وکه
په غریبی کی چاته لاس مه نیسه صبر کوه
چی وخت دی راغی د ډالرو نه جامی وکه
په ماښامی کی لږ څه ځکه زړه به دی نه تنګیږی
سهار چی کار ته تلی د ځان سره ټپی وکه
ازله هر شعر کی د ډاکټري پسی زړه مه خوره
چیرته کی دم وکه تعویز وکه خوردي وکه

ketabton.com - The Digital Library

* * *

تقاضا ده یو گلاس او لږ شراب
او په لاس کی د چا لاس او لږ شراب
ماښامی کی سړیتوب نه نه نه
دا وخت خوند کوی بکواس او لږ شراب
زه په خپل ملنگي کی لوی بادشاه
زه لرمه لږ احساس او لږ شراب
د سیند غاړه زیړ اسمان زیړ مازیگر
یو لالي او یو عکاس او لږ شراب
مړوند لری که خوب خوند کوی ازله
د نامه نه لږ ورپاس او لږ شراب

ketabton.com - The Digital Library

*** 

زړه مې غوښ دی ستا د غوښې رابطې نه

تشکر زما د دومره حوصلې نه

زياتې مه کړه منع کيږم نه ټپې نه

ملا جار دی د ممبر او مسلې نه

اجې ګله ته اومره ښه يې چې ورشم

زه جنت ته نه ځم مخکې د ادې نه

ستا په سر وه راته ګرانه ته چې لاړې

ما دی مخ واړوه ټولې قبيلې نه

تا دې بيا سترګې سرې کړې دې کوټې نه

ما مې سرې سترګې راوړې ميکدې نه

زه د خپل وطن په رنځ دارو پوهيږم

ګاونډيه تشکر دې نظريې نه

د ياري ميعار پيسه نه ده ازله

ځينې خلک شته خواره دې له پيسې نه

ketabton.com - The Digital Library

* * *

ژوند د قلم غوندی نه دی چی به تیر شی

نه جانان د سړی ځوی دی چی به هیر شی

چی کوم ښکلی خوښ کو دولس یی یاران وی

چی تر سو مونږ ته رسیږی نو گنډیر شی

پیسی وگټه یاران به خدای پیداکړی

د حساب به نه وی دومره به را ډیر شی

یه ازله دلگان ورته ښکاریږو

بس چی چیرته غم وی مونږ نه به چاپیر وی

ketabton.com - The Digital Library

*   *   *

ما غوندی سړی ورته بغاری وواهلی

ژوند راباندی شپږ رقمه لاری وواهلی

نه وو ضرورت د بیا راتګ او بیرته تګ

زخم کی دی بیا راته نوکاری وواهلی

چا پسی می دومره بدی بدی چغی وکړی

لاړو می د وینو غوندی داری وواهلی

سرو لمبو ته پاتی شو جانان جانان وطن

مونږ ورته د لری نه کوکاری وواهلی

یه ازله وه ازله تا ته وایم لوفره

بس که نن دی څو پیالی مرداری وواهلی

ketabton.com - The Digital Library

*  *  *

څوک يې پاچا که چا وبيلله
عشق يو لوبه وه ما وبيلله
يعنې زما او ستا کيسه ختم شوه
يعنې مونږ دواړو دنيا وبيلله
چې د رقيب سره جانان وخندل
ما ورله ښه په خندا وبيلله
د پښتنو په منځ کې د مينه وکړه
ازله بلکل چې تا وبيلله

ketabton.com - The Digital Library

*  *  *

ځاه یې ستونی کې اخاره غوندې ښکاري
دا وطن راته بې پلاره غوندې ښکاري
تقدس په کې د علم پاتې نه دی
زندګي راته مرداره غوندې ښکاري
د جانان په ځای کتاب باندې مېئنه
دا جلې راته اوښیاره غوندې ښکاري
خودکوشي به رانه کېږي که دا حال وي
ماته دغه یوه لاره غوندې ښکاري
ما د روغ افغانستان هیله لرله
اوس مې دا هیله بیماره غوندې ښکاري
چې کوم کس مې شاعري اوري ازله
هغه کس راته بې یاره غوندې ښکاري

ketabton.com - The Digital Library

*  *  *

یو درد لرم نری نری خوږیږم ملنګه
تر اوسه بی وفا پسی زوریږم ملنګه
دا چا راته ښیري وکړی رضا جینی په شا شوه
لاسونه یی دانه دانه تویږم ملنګه
زه اوس هم د مړ سترګی تر تاثیر لاندی راځمه
زه اوس هم هغه سترګو ته لړزیږم ملنګه
ځه الله دی مل شه زه جیګیږم ملنګه
اول نه دی زه هر ماښام غورزیږم ملنګه
نه می شرابونو میکدو غمونه کم کړل
او نه په جماتونو کی ښه کیږم ملنګه
دا ما ته خو په سجده کی هم نری نری یادیږی
ته څه وایی چی زه به وریادیږم ملنګه
ولا ځان راته بد ښکاری په دومره لویه ږیره
یونیم وخت کی اوس هم پسی ژړیږمه ملنګه
اوف ورکه دی ډاکتره شی ځوانی می پری تبا کړه
سپیري خاوری شوم هر خوا بادیږم ملنګه

ketabton.com - The Digital Library

* * *

یا ورله ما بوزی یا کور راولی
مور می یادیږی ما له مور راولی
د زورورو ښار کی غلې ګرځم
ورور می خبر کی زما ورور راولی
لالی ته ووایه ازل دی غواړی
چی نه راتلو بیا یی په زور راولی

ketabton.com - The Digital Library

*  *  *

ځان باندې پراته یو د قبرونو په رقم
زړونه مو ولاکه وی د زړونو په رقم
خوښه ده د یارانو چی وفا کړی که جفا
ما خو ورکتلی دی د ورونو په رقم
وه بزرگه ته په سپین پوټکی غولیدلی یی
کاش کی وای زړونه د مخونو په رقم
ته می په زړګی وریږه مه خرابویمی
زه یمه د خامو دیوالونو په رقم
هر چا امتحانه پوری لوستی یم ازله
زه وایم د مکتب د کتابونو په رقم

ketabton.com - The Digital Library

* * *

بیتونه

وریځی دی باران دی او اسمان بیخی په موډ کی دی
غیږ کی یی نیولی یم جانان بیخی په موډ کی دی
وژنی مو کافری د سینو منځ دی ښکاریږی تری
څه کوی سمبال دی که ګریوان بیخی په موډ کی دی

بیتونه

خوله می دی ماته شی چی بل ته یی څښتن ووایم
په اور به کینم خو وطن ته به وطن ووایم
وخت به راځی اسلام اباد کی به دمه کومه
او کلیمی به د پنجاب په هر تن وایمه

ketabton.com - The Digital Library

*** 

بیابان دی زما خوښ دی

ژوند توان دی زما خوښ دی

خدایه ما ته یی ډالی که

یو انسان دی زما خوښ دی

که پښتون که هزاره دی

یو افغان دی  زما خوښ دی

که جنت دی که دوزخ دی

خو جانان دی زما خوښ دی

گران وطن افغانستان می

ړنړ دی او وران دی زما خوښ دی

په دا سپین سر انجونی غواړی

زړه می ځوان دی زما خوښ

ketabton.com - The Digital Library

* * *

ازله مړ یم باچا بلکل مړ یم
زه د هغی په خندا بلکل مړ یم
بابا ادم په هوا بلکل مړ وو
او زه په لور د هوا بلکل مړ یم
که لاړی بیا به هدیره کی گورو
ته چی راځی زه به بیا بلکل مړ یم
د هلکانو په اتڼ میئن یم
د جنکو په گډا بلکل مړ یم
دلته په سپین کابل جان سپینی واوری
هلته د صوات په هوا بلکل مړ یم
شونډی په شونډی او سینه په سینه
مړ یم په دغه گناه بلکل مړ یم
ډاکټري مور باندی می تانه مخکی
ورپسی وروسته په ته بلکل مړ یم

ketabton.com - The Digital Library

# درانو لوستونکو ستاسو د لوستلو څخه مو نړی مننه.

---

**د نورو په زړه پورې معلوماتو په تمه ووسې.**

**په درنښت**

**محمد یونس زیرک**

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*